بسم الله الرحمن الرحیم

ستره محکمه

# جریده میـــزان

د سترې محکمې کاري څرګندويه خپرونه

**د هستی نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې ايښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تیری ونه کړئ.
زياتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.
تفسیر کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

د تأسيس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

دو شنبه ۱۳ زمری ۱۴۰۴ هـ ش | ۱۰ صفرالمظفر ۱۴۴۷ هـ ق | ۴ اګست ۲۰۲۵ م | مسلسله شمیره (۱۰٦)

## گزارش خلاصهٔ اجراآت معاونیت محترم قضائی ستره محکمه طی ربع چهارم سال ١٤٤٦ هـ ق

معاونیت محترم قضائی ستره محکمه طی ربع چهارم سال ١٤٤٦ هـ ق اجراآت ذیل را انجام داده‌است:

- به تعداد (۷۲۴) قطعه مکاتیب از ارگان‌های مختلف امارت اسلامی افغانستان جهت مطالبه هدایات قضائی مواصلت نموده بودکه بعد از هدایت معاون محترم قضائی دوباره به مراجع مربوطه ارسال گردید.
- به تعداد (۵۳۳) قطعه مکاتیب موضوعات مختلف بعد از هدایت معاون محترم قضائی به مراجع مطالبه کننده آن صادر و ارسال گردیده‌است.

به تعداد (۲۹۶۸) قطعه عرایض غرض مطالبات حقوقی و قضائی عنوانی مقام عالی ستره محکمه مواصلت ورزیده بودکه بعد از اخذ هدایت مقام عالی ستره محکمه و معاونیت قضائی احکام، به اصحاب دعوی یا مراجع مطالبه‌کننده آن ارسال گردیده‌است و به تعداد (۷۰۳) قطعه عرایض مسترد گردید.

## گزارش خلاصهٔ اجراآت ریاست عمومی دفتر مقام عالی ستره محکمه طی ربع چهارم سال ١٤٤٦ هـ ق

ریاست عمومی دفتر مقام عالی ستره محکمه طی ربع چهارم سال ۱۴۴۶هـ ق اجراآت ذیل را انجام داده‌است:

- به تعداد (۲۷۲۸) قطعه مکاتیب و پیشنهادات از محاکم مرکز و ولایات، وزارت خانه‌ها، ادارات مستقل امارتی به این اداره مواصلت ورزیده و بعد از اخذ هدایت مقام ستره محکمه غرض اجراآت بعدی به مرجع مربوطه ارسال گردید.
- به تعداد (۱۰۹۷) جلد دوسیه‌های حقوقی و جزائی بعد اخذ هدایت مقام عالی ستره محکمه برای تطبیق جزا های تعزیری جهت اجراآت بعدی به مراجع مربوطه آن ارسال گردیده‌است.
- به اساس هدایت محترم قاضی‌القضات و رئیس ستره محکمه به مناسبت عید سعید فطر و اضحی به تعداد (۸۱۲۴) نفر محبوسین عفوه و تخفیف داده شده‌است.
- کمیتهٔ رؤیت هلال مطابق فرمان عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله تعالی) در هر ماه یک بار دایر می‌گردد. در این ربع (۳) جلسه کمیته رؤیت هلال دایر گردیده‌است.
- کمیتهٔ نصاب تعلیمی طبق آجندا هفتهٔ یک مرتبه تشکیل جلسه داده که در یک ربع (۱۲) مرتبه جلسه نصاب تعلیمی دایر گردیده‌است.

کمیسیون بازدید نهائی سندهای اصولی در این ربع به تعداد (۱۰) سند را بازدید نموده که به مقام محترم عالی رهبری امارت اسلامی افغانستان ارسال گردیده‌است.

## خلاصه گزارش اجراآت ریاست پالیسی و پلان ستره محکمه طی ربع چهارم سال ۱۴۴۶ هـ ق

ریاست پالیسی و پلان ستره محکمه طی ربع چهارم سال ۱۴۴۶ هـ ق اجراآت و فعالیت های ذیل را انجام داده است:

- از طرف ریاست پالیسی و پلان ستره محکمه طی ربع چهارم گزارش قضایای رسیدگی شده خشونت علیه زن به شمول قضایای تحت کار از (۹) ماه اول سال ۱۴۴۶هـ ق ترتیب و به ریاست ارتباط خارجه، عامه و مطبوعات ستره محکمه ارسال شد.
- گزارش اجراآت قضائی و وثایق اجراء شده محاکم مرافعه ولایت کابل از سال های ۱۴۰۲هـ ش و ۱۴۰۳ هـ ش ترتیب و به ریاست عمومی امور کارکنان ارسال شد.
- گزارش در مورد تداخل وظیفوی بین ادارات ستره محکمه و دیگر ادارات امارتی ترتیب و به ریاست عمومی اداره امور ارسال گردید.
- گزارش از مصوبه شماره (۱۱) کابینه امارت اسلامی ترتیب و به ریاست عمومی اداره امور ارسال گرید.
- گزارش سالتمام اجراآت قضائی و اداری ریاست های مرکزی ستره محکمه و محاکم مرافعه (۳۴) ولایات کشور ترتیب و به وزارت اطلاعات و فرهنگ ارسال گردید.
- ریاست پالیسی و پلان ستره محکمه طی ربع چهارم متحدالمآل گزارش دسترسی زنان به حق میراث و ملکیت به محاکم مرافعه ولایات کشور که در دو مرحله (ابتدائیه و مرافعه) جمع آوری و غرض اجراآت بعدی ارسال میگردد.
- جهت نظارت و ارزیابی از فعالیت های ریاست های مرکزی ستره محکمه برای ربع اول سال ۱۴۰۴ هـ ش چک لیست های ترتیب گردید.
- گزارش از تطبیق و اجراآت انجام یافته (۳۴) قطعه احکام عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله تعالی) و ریاست الوزراء ترتیب و به ریاست عمومی اداره امور و ریاست عمومی نظارت و تعقیب احکام و فرامین ارسال گردید.
- گزارش از تطبیق و عدم تطبیق پلان تطبیقی ستره محکمه ترتیب و به مرجع مربوطه ارسال گردید.
- گزارش ربع چهارم سال ۱۴۴۶هـ ق محاکم مرافعه (۳۴) ولایات ترتیب گردید.
- گزارش حاضری از محاکم مرافعه ۳۴ ولایات کشور از ربع اول سال ۱۴۰۴هـ ش (حمل، ثور و جوزا) جمع آوری، در فارمت مشخص آن توحید و ذریعه مکتوب به مراجع مربوطه آن ارسال گردید.
- گزارش از تطبیق پلان تطبیقي ربع چهارم سال ۱۴۰۴ هـ ش مالی ترتیب و به مراجع مربوطه آن ارسال گردید.
- پلان تطبیقي سالانه ستره محکمه ترتیب و به ریاست عمومی اداره امور ارسال گردید.
- گزارش ستره محکمه در برنامه حساب دهی دولت به ملت توحید گردیده که در ربع بعدی از طریق رسانه ها ارایه و نشر خواهند شد .
- از طرف ریاست پالیسی و پلان ستره محکمه طی ربع چهارم گزارش اجراآت قضائی ترتیب و به مرجع مربوطه ارسال گردید.
- از طرف ریاست پالیسی و پلان ستره محکمه طی ربع چهارم خانه پری فارمت های ارسالی اداره ملی احصائیه جهت گزارش دهی و ارسال آن بعد از خانه پری به اداره مربوطه صورت گرفت.
- گزارش محاکم کم کار و پر کار ترتیب و به ریاست عمومی امور کارکنان ارسال گردید.
- گزارش اجراآت قضائی دیوان های (۱۰) گانه تمیز، محاکم (۳۴) ولایات و اجراآت کاری ریاست عمومی حقوق در ربع چهارم سال ۱۴۴۶هـ ق ترتیب و به مرجع مربوطه ارسال گردید.

در اخیر گزارش فعالیت های انجام یافته ریاست های مرکزی ترتیب و به دفتر عالیقدر امیر المؤمنین (حفظه الله تعالی) و ریاست عمومی اداره امور ارسال گردید.




**په راشده خلافت دوره کې قضاء:**

**د ابوبکر صدیق ﷺ په دوره کې قضاء:**

**پنځمه برخه**

د ابوبکر صدیق ﷺ پېژندنه: اصلي نوم يې عبدالله دی، د عثمان زوی دی، هغه د عمرو، هغه د کعب، هغه د سعد، هغه د تیم، هغه د مره، هغه د کعب، هغه د لؤي، هغه د غالب زوی دی.

کله چې نبي کريم ﷺ رحلت وکړ؛ نو دده ﷺ د نص له امله چې کله يې دی مخته کړ، نو په بني ساعده سقيفه کې بيعت ورسره وکړل شو او کله چې له ده سره بيعت شروع کېدلو، نو وويل:«ما پرېږدئ، ځکه زه ستاسو په خير نه يم»، مګر ټولو وويل: په الله قسم چې تا به پرېنږدو او نه به ستا استعفا ومنو؛ ځکه رسول الله ﷺ ته مونږ ته په ديني چارو غوره کړې؛ نو مونږ به تا خپلو دنيوي چارو کې نه انتخابوو؟.

اخذليک: تتمة النظام، ۵۷ صفحه، تأليف: قاضي القضات شيخ عبدالحکيم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحيم راشد

## د خوست ولایت مرافعه محکمې د نوي رئیس محترم مولوي عین الله (خلیل) د معرفت غونډه وشوه

د خوست ولایت مرافعه محکمې نوی رئیس محترم مولوي عین الله (خلیل)؛ په ۲۱/ ۱/ ۱۴۴۷هـ ق نېټه د یوې غونډې په ترڅ کې د یادې محکمې قضائي غړو او اداري کارکوونکو ته ور وپېژندل شو.

په دې موخه جوړه شوې غونډه کې مرستیال والي، د علماوو شورا، د امر بالمعروف، نهی عن المنکر او شکایاتو اورېدو او د کار او ټولنیزو چارو ریاستونو رئیسانو، د محاکمو قضاتو، قضائي غړو او نورو مسؤولینو ګډون درلود.

غونډه د قرآنکریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه؛ ورپسې د علماوو شورا رئیس شیخ انور حسین (حسیني) د قضاتو د دندو او ځانګړتیاوو په اړه هر اړخیزه وینا وکړه.

د غونډې په دوام مرستیال والي مولوي محبوب شاه (قانت) خبرې وکړې؛ د پخواني رئیس کارونه یې وستایل او نوي رئیس ته یې د همکارۍ ډاډ ورکړ زیاته یې کړه، د چې محاکم د اسلامي نظام لپاره د ستون فقرات حیثیت لري.

دغه راز د مرافعه محکمې پخواني رئیس محترم مولوي امین الله (منیب) وینا وکړه، د تېرو لاسته راوړنو د یادونې ترڅنګ یې نوي رئیس ته ښه راغلاست ووایه.

په وروستیو کې د مرافعه محکمې نوي رئیس وینا وکړه، د قضاء په اهمیت، له ولس سره په ښه چلند او د خلکو ستونزو ته پر وخت رسېدنه یې ټینګار وکړ.

نوموړي د غونډې ګډونوالو ته ډاډ ورکړ چې په شرعي مسؤولیت کې به هېڅ ډول سستي او له حق څخه به دریغ نه کوي.

غونډه د امربالمعروف، نهی عن المنکر او شکایاتو اورېدو رئیس مولوي شراف الدین لخوا د دعا په ویلو پای ته ورسېده.

## محترم مفتی عبدالوهاب (زاهد) به حیث رئیس جدید محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری ولایت سمنگان معرفی گردید

محترم الحاج مفتی عبدالوهاب (زاهد) به حیث رئیس محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری ولایت سمنگان؛ به تاریخ ۲۳/ ۱/ ۱۴۴۷ هـ ق طی محفلِ به منسوبین ریاست محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری معرفی گردید.

ابتداء جلسه با تلاوت چند آیات از کلام الله مجید توسط قاری عبدالرازق محرر مسلکی دیوان مدنی محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری آغاز گردید؛ سپس مولوی محی الدین (عمری) رئیس عمومی محکمهٔ مرافعه حاضرین مجلس را خوش آمدید گفت افزود، تبدیلی و تقرری در نظام امارت اسلامی یک اصل است و مقصود از این مسؤولیت خدمت به دین مقدس اسلام، نظام امارت اسلامی و جامعه افغانستان در پرتو شریعت اسلامی می‌باشد.

موصوف اضافه کرد، این چوکی و ریاست یک امتیاز نه؛ بلکه یک مسؤولیت دینی و اجتماعی است، اگر در انجام آن صادقانه و مخلصانه تلاش ننمائیم بدون شک کامیابی دارین نصیب ما نمی‌شود.

موصوف از کارکردها و خدمات نیک مولوی عبدالرؤف (زهیر) رئیس قبلی محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری قدردانی نمود و تقرر مولوی عبدالوهاب (زاهد) را به حیث رئیس محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری یک تقرر شایسته و نیک دانست.

در ادامه مولوی محمد قاسم (حکمت) رئیس محکمهٔ اختصاصی ولایت بلخ صحبت کرد گفت، یکی از راه بدست آوردن رضای الله متعال ادای مسؤولیت و امانت الهی به طریقه سنت پیامبر گرامی اسلام می‌باشد، قضات و مسؤولین در امر قضاوت خویش نهایت متوجه باشند.

در اخیر مولوی عبدالرؤف (زهیر) رئیس قبلی محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری با تبریک گفتن به رئیس جدید خواهان موفقیت و کامیابی در امور محوله از بارگاه الهی گردید و از عموم قضات و کارمندان خواهان سمع، طاعت و همکاری صادقانه با رئیس جدید گردید.

جلسه با دعاء خیر توسط مولوی سعدالدین (سعید) خاتمه یافت.

## د غزني ولایت ښاري ابتدائیه محکمې د نوي رئیس محترم مولوي عبدالمجید د معرفت غونډه وشوه

د غزني ولایت ښاري ابتدائیه محکمې نوی رئیس محترم مولوي عبدالمجید او نورو قضائي غړو د معرفت غونډه په ۲۰/ ۱/ ۱۴۴۷هـ ق نېټه د مرافعه محکمې په ریاست کې ترسره شوه.

غونډه د تحریراتو آمر لخوا د قرآنکریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه؛ ورپسې د مرافعه محکمې د مدني دیوان رئیس صلاح الدین (حقاني) هر اړخیزه وینا وکړه.

د غونډې په دوام د ښاري ابتدائیه محکمې نوي رئیس د تقوا، عدالت او ثبات په اړه وینا وکړه.

دغه راز د مرافعه محکمې عمومي رئیس الحاج مفتي عزیزالله (حیدري) د اطاعت په اړه وینا وکړه؛ نویو مقررو او تبدیل شویو قضاتو ته یې د خدمت د قبولیت دعا ترڅنګ د ناستې ګډونوالو ته د مشورې کولو سپارښتنه وکړه.

نوموړي له مراجعینو سره په ښه چلند او خپلو منځو کې پر همغږۍ او همکارۍ ټینګار وکړ؛ نوي تبدیل شوي قضات او رئیسان یې معرفي کړل.

غونډه د یاد ولایت د دعوت او ارشاد آمر لخوا په اختتامیه دعا پای ته ورسېده.

## د پکتیکا ولایت مرافعه محکمې نوي رئیس محترم مولوي محمود سید (مخلص) د معرفت غونډه وشوه

د پکتیکا ولایت مرافعه محکمې نوی رئیس محترم مولوي محمود سید (مخلص)؛ په ۲۱/ ۱/ ۱۴۴۷هـ ق نېټه د یوې غونډې په ترڅ کې د یاد ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه او د ولسوالیو ابتدائیه محاکمو قضائي غړو او اداري کارکوونکو ته ور وپېژندل شو.

په دې موخه جوړه شوې غونډه د مرافعه محکمې عامه امنیت دیوان رئیس مولوي عبدالله (عمري) لخوا د قرآنکریم د مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه؛ ورپسې د مرافعه محکمې جزا دیوان رئیس مولوي محمد (مختاري) نوي رئیس صاحب ته ښه راغلاست ووایه.

د غونډې په دوام د مرافعه محکمې نوي رئیس د قضاء اهمیت او عدالت په اړه خبرې وکړې، قضاتو ته په خطاب یې وویل، په فیصلو کې به د خواهشاتو تابعداري نه کوئ، اصولو ته پابند اوسئ، د خپل صلاحیت مطابق اجراآت کوئ او د ستونزې پر مهال مشوره کوئ.

د غونډې په وروستیو کې د مرافعه محکمې پخواني رئیس د یاد ولایت د قضائي غړو او اداري کارکوونکو څخه خوښي څرګنده کړه او ټولو قضائي او اداري کارکوونکو ته یې د نوي رئیس د اطاعت کولو په اړه ټینګار وکړ.

غونډه د مرافعه محکمې د پخواني رئیس لخوا د دعا په ویلو پای ته ورسېده.

## د روزګان ولایت مرافعه محکمې د نوي رئیس محترم مولوي محمود (ابوالفیض) د معرفت غونډه وشوه

د روزګان ولایت مرافعه محکمې نوی رئیس محترم الحاج مولوي محمود (ابوالفیض)؛ په ۲۵ /۱ /۱۴۴۷ هـ ق نېټه د یوې غونډې په ترڅ کې د یاد ولایت د محاکمو قضائي غړو او اداري کارکوونکو ته ور وپېژندل شو.

په دې موخه جوړه شوې غونډه د عامه امنیت دیوان د محرر مولوي امیر محمد (ایوب) لخوا د قرآنکریم د مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه؛ ورپسې د مرافعه محکمې مخکني رئیس محترم شیخ سخي داد (ابوالتقي) د خپلو قضائي، اداري او خدمتي کارکوونکو څخه د ښه خدمت مننه وکړه او نوي رئیس ته یې په خپلو چارو کې د لا بریا او ښه خدمت کولو توفیق غوښتنه وکړه.

د غونډې په دوام نوي رئیس خبرې وکړې وویل، قضاء یو درونډ مسؤولیت دی، باید په هېڅ صورت یې په لارو چارو کې غفلت او بې احتیاطي و نه شي.

نوموړي د قضاء پر اهمیت او ارزښت خبرې وکړې او له مراجعینو سره د ښه سلوک په اړه یې یادونه وکړه.

غونډه د ښاري ابتدائیه محکمې رئیس مولوي محمد نبي (محمدي) لخوا د دعاء په ویلو پای ته ورسېده.

## دکندهار زون نظامي محکمې عمومي رئیس هلمند ولایت ته سفر وکړ

د کندهار زون نظامي محکمې عمومي رئیس الحاج مولوي محمدګل (صیاد)؛ د یاد ولایت د مرافعه محکمې رئیس الحاج مولوي غلام حضرت، دکندهار زون نظامي محکمې قاضي الحاج مولوي موسی کلیم (قانت)، مفتي محمد سرور (بنوري) او محرر مولوي احمد، په ۲۰/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه د هلمند ولایت نظامي محکمې ته د نوي رئیس مولوي محب الله"اخندزاده" د معرفت په موخه سفر وکړ.

په دې موخه جوړه شوې غونډه کې د هلمند ولایت د مرافعه محکمې او د علماوو شورا رئیسانو ګډون درلود.

غونډه د قرآن کریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه؛ ورپسې دکندهار زون نظامي محکمې او د هلمند ولایت د مرافعه محکمې عمومي رئیسانو تغیر او تبدیل په نظام کې یو اصل یاد کړ؛ د مخکني قاضي صاحب د خدمت څخه یې مننه او ستاینه وکړه او نوي قاضي صاحب ته د ښه خدمت کولو هیله څرګنده کړه.

## د سترې محکمې مرکزي ریاستونو او دیوانونو د رئیسانو، مفتیانو، محررینو او آمرینو لپاره د دعوت او ارشاد ریاست میاشتنۍ غونډه وشوه

د سترې محکمې د مرکزي ریاستونو او دیوانونو د رئیسانو، مفتیانو، محررینو او آمرینو لپاره په (۱۴۴۷/۱/۲۶ هـ ق) نېټه د دعوت او ارشاد ریاست میاشتنۍ غونډه وشوه.

په دې غونډه کې چې د سترې محکمې د مرکزي ریاستونو او دیوانونو رئیس صاحبانو، مفتي صاحبان، محررینو او آمرینو ګډون درلود؛ د مرکزي تمیز عالي ریاست رئیس محترم شیخ محمد شریف (حقاني) د قرآنکریم او نبوي احادیثو په رڼا کې ګټور اصلاحي بیان وکړ.

محترم شیخ محمد شریف (حقاني) وویل، د اسلامي نظام ټول منسوبین په ځانګړې توګه قضات او د محاکمو نور قضائي او اداري غړي باید د ټل په څېر دوې مهمې ځانګړتیاوې (پر ماتحت کارکوونکو او مراجعینو ترحم او شفقت او دغه راز خپلو منځو کې له کینې، حسد او تعصب څخه ځان ساتنه) ولري.

د مرکزي تمیز عالي ریاست رئیس زیاته کړه، د قرآنکریم او نبوي ارشادانو له مخې مسلمان د بل مسلمان ورور دی؛ نو په دې اساس د محاکمو قضائي او اداري غړي باید له خپلو ماتحت کارکوونکو او مراجعینو سره د ورونو په څېر چلند وکړي؛ ځکه مراجعین هم زموږ مسلمانان ورونه دي، د یوې موضوع پر سر یې دعوی پېښه شوې او تر محاکمو رارسېدلي وي؛ بناءً تاسو یې د شرعي اصولو په رڼا کې دوسیو ته رسېدنه وکړئ او له دوی سره ښه او نرم چلند وکړئ.

دغه راز محترم شیخ محمد شریف (حقاني) صاحب وویل، د محاکمو قضائي او اداري غړو ته نه ښایي چې خدای مه کړه په خپلو منځو کې حسد او بغض وکړي؛ بلکې لازمه ده چې د یو او بل په پرمختګ خوشحاله شي، د مسایلو په حل او کارونو پر ترسره کولو کې له یو بل سره پوره همکاري وکړي.

غونډه د مرکزي تمیز عالي ریاست د رئیس لخوا تر تفصیلي او ارزښتناکې وینا وروسته د سترې محکمې د نظامي مرستیال محترم شیخ خیرجان (خیرخواه) صاحب لخوا د دعاء په ویلو پای ته ورسېده.

## محاکم ولایت سمنگان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۱۶۴) دوسیه، به تعداد (۹۵) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصه اجراآت قضائی محاکم ولایت سمنگان، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی ها از تاریخ (۹/ ۱/ ۱۴۴۷هـ ق الی ۲۱/ ۱/ ۱۴۴۷هـ ق) به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۱۲) دوسیه وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۸۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۶) دوسیه فیصله شده، (۱۷) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۵۲) دوسیه وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۳۰) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۹) دوسیه فیصله شده، (۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت سمنگان به تعداد (۹۵) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## د زابل ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۱۱۳) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۵۶) وثیقې هم اجرا کړې دي

د زابل ولایت د مرافعه، ښاري ابتدائیه، نظامي او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په دوو اونیو کې له (۱/ ۱/ ۱۴۴۷هـ ق څخه تر ۱۵/ ۱/ ۱۴۴۷هـ ق نېټې پورې (۱۱۳) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۵۶) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په دوو اونیو کې (۱۳۷) حقوقي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۲۷) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۳۱) دوسیې فیصله شوې، (۱۴) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په دوو اونیو کې (۵۱) جزائي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۳) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۲۷) دوسیې فیصله شوې، (۱) دوسیه مکتوبي مسترد شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د زابل ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۵۶) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## د بلخ ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۵۱۰) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۳۳۶) وثیقې هم اجرا کړې دي

د بلخ ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه، د بلخ زون نظامي، اختصاصي او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په دوو اونیو کې د ۲/ ۱/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټې څخه ۱۴ / ۱/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټې پورې (۵۱۰) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۳۳۶) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۴۵۹) حقوقي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۲۰۴) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۶۷) دوسیې فیصله شوې، (۳۳) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۱۵۷) جزائي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۸۳) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۹۲) دوسیې فیصله شوې، (۳۱) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۳۳۶) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم ولایت کندز طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۵۵۹) دوسیه، به تعداد (۳۲۶) قطعه وثایق نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت کندز، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱/ ۱۲/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۲۹/ ۱۲/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۴۰۰) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۵۴) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۹۴) دوسیه فیصله شده، (۱۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۳۲۴) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۱۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۶۵) دوسیه فیصله شده، (۱۰) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت کندز به تعداد (۳۲۶) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت هرات طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۵۲۳) دوسیه، به تعداد (۴۸۳) قطعه وثایق نیز اجرا نموده است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت هرات، دواوین مرافعهٔ، وثایق، ابتدائیه شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱۶/ ۱/ ۱۴۴۷ هـ ق الی ۲۹/ ۱/ ۱۴۴۷ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی، تجارتی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۵۹) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۳۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۷) دوسیه فیصله شده، (۱۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۸۰) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۲۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۴۷) دوسیه فیصله شده، (۱۹) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ تحت کار می‌باشد.

**در بخش تجارتی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۳۳) دوسیهٔ تجارتی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۳۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۸) دوسیه فیصله شده، (۹۹) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت هرات به تعداد (۴۸۳) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محاکم ولایت بغلان طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۶۵۰) دوسیه، به تعداد (۳۷۴) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت بغلان، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱/ ۱/ ۱۴۴۷ هـ ق الی ۲۹/ ۱/ ۱۴۴۷ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۶۶۱) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۳۸۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۳) دوسیه فیصله شده، (۴۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۲۷۰) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۱۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۱) دوسیه فیصله شده، (۳۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بغلان به تعداد (۳۷۴) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت غور طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۳۱۱) دوسیه، به تعداد (۱۷۷) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت غور، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری، نظامی زون غور، اختصاصی و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱۵/ ۱۲/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۲۹/ ۱۲/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۵۱) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۱۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۸) دوسیه فیصله شده، (۲۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۰۸) دوسیه جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۵۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۵۵) دوسیه فیصله شده، (۹) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت غور به تعداد (۱۷۷) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## د کابل ولایت ده سبز ولسوالۍ ابتدائیه محکمې د مسؤولینو په هڅو د قتل موضوع حل شوه

د کابل ولایت مرافعه محکمې اړوند، ده سبز ولسوالۍ ابتدائیه محکمې رئیس مفتي صفت الله (عباس) او نورو قضائي غړو په ډېرو هڅو او ترغیب او د قومي مشرانو په منځګړیتوب، په ۲۵ /۱ /۱۴۴۷ هـ ق نېټه د قتل موضوع حل او فصل شوه.

د قتل په دې پېښه کې د کابل ولایت په ده سبز ولسوالۍ کې یو نرس ډاکتر ښځینه ناروغې ته امپول تزریق کړی وو، چې له امله یې ناروغه وفات شوې وه.

یاده موضوع ابتدائیه محکمې ته راجع شوه، له پوره غور او دقت وروسته مسؤولینو دواړه لوري سولې ته ترغیب کړل، چې د سپین‌ږیرو او علماوو په منځګړیتوب د مقتول وارثینو بخښنې ته غاړه کېښوده.

د مقتول کورنۍ تر رضایت وروسته د یوې غونډې په ترڅ کې چې قومي مشرانو، سپین‌ږیرو او د سیمې اوسېدونکو هم په کې ګډون درلود؛ د مقتول وارثینو قاتل ته بخښنه وکړه او یاده قضیه په رسمي ډول پای ته ورسېده.

سرپرست مسؤول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
ادیتور : جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

لا اله الا الله محمد رسول الله

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه خرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

## دکندهار زون نظامي محکمې د پرېکړې په اساس (۱۳۲) کیلو ګرامه تریاک، (۴۸۰) ګرامه شیشه او (۶۳۰) عدده تابلیت «K» وسوځول شول

د کندهار زون نظامي محکمې مسؤولینو د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله تعالی) د (۵۰۹) ګڼې، ۱۴۴۶/۸/۱۶هـ ق نېټې هدایت او د سترې محکمې عالي مقام د (۲۷/ذوالقعدةالحرام/۱۴۴۶هـ ق) نېټې، (۲۷) ګڼې، متحدالمآل په اساس د بېلا بېلو ارګانونو لخوا نیول شوي (۱۳۲) کیلو ګرامه تریاک، (۴۸۰) ګرامه شیشه او (۶۳۰) عدده تابلیت «K» وسوځول شول.

یاده اندازه نشه‌یي توکي د امنیه قوماندانی له نشه‌یي توکو سره د مبارزې مدیریت، د استخباراتو او عامې روغتیا ریاستونو د استازو په شتون کې په عام محضر کې وسوځول شول.

## په کونړ ولایت کې یوه متهم ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د کونړ ولایت نورګل ولسوالۍ ابتدائیه محکمې د پرېکړې له مخې یو کس ته چې پر لواطت متهم و؛ په ۲۵/ ۱/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټه په عام محضر کې تعزیري سزا ورکړل شوه. ابتدائیه محکمې یاد متهم پر دوو میاشتو تنفیذي بند او ۳۹ دُرو تعزیري سزا محکوم کړی و؛ چې یاده پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائید وروسته تطبیق شوه. په دې موخه جوړه شوې غونډه د قرآنکریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه؛ وروسته د مرافعه محکمې سرپرست مولوي لعل محمد (صدیقي) او د یادې ولسوالۍ ولسوال د موضوع اړوند ویناوې وکړې. غونډه د تعزیري سزا حکم له تطبیق وروسته د دعاء په ویلو پای ته ورسېده.

## حکم جزای تعزیری بالای دو مجرم در ولایت تخار تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی خواجه بهاوالدین ولایت تخار به شمول یک زن بالای دو تن به جرم فرار از منزل، فرار دادن و روابط نامشروع؛ به تاریخ ۲۷/ ۱/ ۱۴۴۷ هـ ق حکم جزای تعزیری تطبیق شد. محکمهٔ ابتدائیه مجرمین مذکور را به ۳۹ـ ۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بودند؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه بالای مجرمین تطبیق شد.

## حکم جزای تعزیری بالای چهار مجرم در ولایت جوزجان تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی قوش‌تپهٔ ولایت جوزجان به شمول یک زن بالای چهار تن به جرم ارتباط نامشروع؛ به تاریخ ۲۳/ ۱/ ۱۴۴۷ هـ ق حکم جزای تعزیری تطبیق شد. محکمهٔ ابتدائیه مجرمین مذکور را به ۲۵ـ ۲۵ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بودند؛ که حکم بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه بالای مجرمین تطبیق شد.

## د روزګان ولایت نظامي محکمې په هڅو د قتل موضوع د سولې له لارې حل او فصل شوه

د روزګان ولایت نظامي محکمې رئیس محترم مولوي عبدالقدیر (ابوالمختار) او نورو مسؤولینو په ډېرو هڅو د یاد ولایت د مرکز ترینکوټ اړوند ګرم آب سیمه کې؛ په ۱۵/ ۱/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټه د قتل موضوع حل او فصل شوه. د قتل دغه موضوع په ۱۴/ ۱۰/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه د روزګان ولایت نظامي محکمې ځانګې ته د شرعي حل او فصل په موخه راجع شوه؛ د محکمې مسؤولینو په پوره دقت او غور د دوسیې تر څېړلو وروسته د قضیې دواړه طرفونه سولې ته ترغیب او وهڅول.

په یاده موضوع کې یو ملکي کس په نظامي کس باندې د خپل پلار د قتل او قصاص غوښتنې دعوه کړې وه؛ چې د سولې له ترغیب وروسته یې موضوع مصلحینو ته راجع شوه. د قاتل کورنی لخوا د مقتول وارثینو ته یوه اندازه پیسې د دیت په توګه ورکړل شوې او موضوع د سولې له لارې رسماً پای ته ورسېده.

## حکم جزای تعزیری بالای یک مجرم در ولایت بلخ تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری ولایت بلخ بالای یک زن به جرم داشتن ارتباط نامشروع؛ روز پنجشنبه مؤرخ ۲۸/ ۱/ ۱۴۴۷ هـ ق در محضر عام حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

محکمهٔ ابتدائیه مجرم مذکور را به ۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بود؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه تطبیق شد.

حکم جزای تعزیری در حضور محترم مولوی مفتی محمد ولی (حقانی) رئیس محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری، شیخ مولوی عبید الله (حقانی) رئیس امر بالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات، رؤسای محکمهٔ شهری، اعضای قضائی، منسوبین اداری و خدماتی، محافظین قطعهٔ امنیتی محاکم، تعداد کثیری از علماء، وکلای گذر، مردم عام و مراجعین در صحن محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری ولایت بلخ تطبیق گردید.

جلسه با تلاوت چند آیات از قرآن عظیم الشان توسط مولوی عبدالسلام (مظهری) رئیس دیوان امنیت عامهٔ محکمه آغاز شد؛ سپس رئیس محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری در مورد تطبیق و اجراء احکام شریعت و برچیدن فسق، عمل خلاف شریعت از جامعه اسلامی و چگونگی تطبیق حکم تعزیری بالای طبقات افراد جامعه صحبت نمود و خداوند متعال را سپاس گزاری نمود، که الحمدلله امروز در کشور ما نظام اسلامی حاکم بوده و تمام احکام الهی مورد تطبیق قرار می‌گیرد.

سپس رئیس امربالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات در مورد حق اولاد بالای والدین و توصیه‌های نیک به منظور سهل گیری در ازدواج ها صحبت نمودند. گردهمائی بعد از تطبیق حکم جزای تعزیری با قرائت دعاء خاتمه یافت.

## دکابل ولایت د نشه‌یي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه محکمې لخوا (۶) مجرمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د کابل ولایت د نشه‌یي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه محکمې د پرېکړې له مخې؛ (۶) کسانو ته د تابلیت (K)، ذیکپ، تریاکو، الکولي مشروباتو او چرسو د خرڅلاو او قاچاق په جرم، په ۲۸/ ۱/ ۱۴۴۷هـ ق نېټه تعزیري سزا ورکړل شوه. ابتدائیه محکمې یاد مجرمین له اوو میاشتو څخه تر دوه کاله تنفیذي بند او له ۱۰ څخه تر ۳۰ دُرو پر تعزیري سزا محکوم کړي وو.

یادي پرېکړې د سترې محکمې عالي مقام له تائید وروسته پر مجرمینو تطبیق شوې.

## با تلاش رئیس محکمهٔ مرافعهٔ ولایت کاپیسا دشمنی ۲۸ ساله میان دو خانواده در ولسوالی تگاب حل و فصل شد

با تلاش مولوی عزیزالرحمن (حقانی) رئیس محکمهٔ مرافعهٔ ولایت کاپیسا؛ دشمنی میان دو خانواده در ولسوالی تگاب که ۲۸ سال قبل آغاز و در نتیجهٔ آن تاهنوز (۲) تن کشته و یک تن مجروح گردیده بود؛ روز سه شنبه مؤرخ ۲۶ /۱ /۱۴۴۷ هـ ق به صلح انجامید.

در جلسهٔ که به همین مناسبت راه اندازی شده بود، رئیس محکمهٔ مرافعه، سایر مسؤولین و اراکین آن ولایت حضور داشتند.

رئیس محکمهٔ مرافعه طی سخنرانی به حاضرین در جلسه گفت، الحمدلله این صلح در نظام اسلامی و بر اساس حسن اخوت مسلمانی صورت گرفت، درحالی‌که همین دشمنی در طول (۲۸) سال دوام داشت؛ اما اداره فاسد جمهوریت اندک کاری را نتوانست انجام دهد.

موصوف تأکید نمود، نظام اسلامی مسؤولیت مصؤن بودن شما را دارد و این جای شکر است که مسؤولین شب و روز در تلاش هستند؛ تا ناهنجاری و خصومت‌های که میان دو قوم و دو خانواده وجود دارد را رفع نمایند.

در اخیر رئیس محکمهٔ مرافعه افزود، در قسمت حل منازعات ذات‌البینی دوش با دوش با مسؤولین و جرگهٔ قومی همراه و به هر گونه همکاری لازم در چارچوب قانون آماده هستیم.

## په پکتیا ولایت کې دوو متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د پکتیا ولایت ځمکنیو ولسوالۍ ابتدائیه محکمې د پرېکړې له مخې دووکسانو ته د غلا په تور؛ په ۱/ ۲/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټه تعزیري سزا ورکړل شوه. ابتدائیه محکمې یو متهم پر لس میاشتې تنفیذي بند او ۳۹ دُرو او دویم متهم پر اته میاشتې تنفیذي بند او ۳۰دُرو تعزیري سزا محکوم کړي وو. یاده پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائید وروسته د ځکمنیو ولسوالۍ ابتدائیه محکمې د رئیس مولوي جنت میر (متقي)، ولسوال، امنیه قوماندان، د استخباراتو مدیر او ګڼ شمېر امارتي مسؤولینو په شتون کې پر متهمینو تطبیق شوه.

## دکابل ولایت چهارآسیاب ولسوالۍ کې دوو متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د کابل ولایت چهارآسیاب ولسوالۍ ابتدائیه محکمې د پرېکړې له مخې دووکسانو ته چې پر لواطت متهم وو؛ په ۳/ ۲/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټه په عام محضر کې تعزیري سزا ورکړل شوه. ابتدائیه محکمې یاد متهمین پر ۳۹ـ ۳۹ دُرو تعزیري سزا محکوم کړي وو؛ چې یاده پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائید وروسته پر متهمینو تطبیق شوه.

میزان

د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته : ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

publications.sc١٤٤٣@gmail.com

www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمېرې:
۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳